مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۴/۰۱/۱۶

د یهودو عادلانه جګړې

(پنځلسمه برخه)

(د اسراییلو صهیونستي، وینې څښونکي حکومت وحشت او دهشت)

اسراییل (د یهوه خدای غوره کړی او ځانګړی قوم)

په تېره لیکنه کې مو ولوستل چې د اسراییلو خدای یهوه خپل غوره کړي قوم اسراییلو ته د دوی د کړنو له امله رنګارنګ سپکې‌سپورې ډالۍ کوي. د یهوه خدای غوره کړی قوم لکه څرنګه چې یهوه په‌خپله ویلي دي، هر ډول بداخلاقۍ ترسره کړي، په ځانګړي توګه هغه ګناهونه لکه د انسان وژل، بتپرستي او زنا چې د یهودو په شریعت کې لوی (کبیره) ګناهونه بلل کیږي، ترسره کوي او هغه ژمنې چې د اسراییلو او یهوه ترمنځ په لیکلي بڼه لیکل شوي او یهوه په وینو ټاپه کړي دي. په پرلېپسې توګه ماتې او سرغړونې کړي دي خو سربېره پر دې یهوه خدای دغه فاسد او غدار قوم د نړۍ په قومونو کې غوره کوي چې د یهوه دا ډول غوراوی حیرانوونکی او عجیبه کار دی، لکه څرنګه چې یهوه خدای په‌خپله وایي: زه داسې عجیبه کارونه کوم چې په ټوله نړۍ کې ساری نه لري[1]، یهوه رښتیا ویلي، هغه داسې کړني کوي چې د نړۍ په نورو ادیانو کې ساری نه لري. د یهوه له عجیبه کړنو یوه دا ده چې د نړۍ د قومونو په منځ کې یې داسې یو قوم غور کړی دی چې د ځمکې پرمخ دا ډول انسان‌دښمنه او ظالم قوم نه لیدل کیږي.

د اسراییلو د هجرت په کتاب کې راغلي چې یهوه خدای د اسراییلو قوم له دې امله غوره کړ چې پر دوی باندې د مصر فرعونیانو لخوا ظلمونه کیدل نو یهوه د دوی د ژغورلو په موخه موسی مصر ته ولېږه:

یهوه خدای وویل:«ما په مصر کې د خپلو **بندګانو** سختۍ او تکلیفونه ولیدل، له مریې‌توب (غلامۍ) څخه د ژغورلو ناري مې واوریدې، اوس راغلی یم دوی د مصریانو له پنجو وژغورم او دوی له مصره وباسم، پراخې او حاصل‌خېزې ځمکې ته چې ګبینه او شیدې په کې بهیږي، ورولم. هغې ځمکې ته چې په هغه کې کنعانیان، حیتیان، اموریان، فرزیان، حویان او یبوسیان اوسیږي. هو د بنې اسراییلو ناري زما غوږ ته رسیدلې دي، کوم ظلم چې مصریان پر دوی کوي زما له سترګو پټ نه دی.» (د هجرت کتاب:۳/۷تر۹پورې)

[1]:«یهوه خدای وویل: دا دی له تاسو سره ژمنه کوم، د ټول قوم پر وړاندې به عجیبې کړنې ترسره کړم، داسې عجیبې کړنې چې د نړۍ په هېڅ ځای کې نه وي لیدل شوي.» (هجرت:۳۴/۱۰)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په مصر کې میشت اسرایيل یهوه د خپلو بندګانو په توګه یاد کړي دي، مانا دا چې اسرایيل د مصریانو په څېر بتپرستان نه وو، هغه مهال چې اسرایيل په مصر کې استوګن وو، یهوه خدای دوی په داسې حال کې غوره کړل چې په‌خپله موسی او د اسرایيلو قوم، یهوه خدای نه پېژاند. دوی نه پوهېدل چې یهوه څه ډول خدای دی، په کوم ځای کې اوسیږي او نوم یې څه دی؟ نو کله چې څوک خپل خدای ونه پېژني، هغه د خدای بندګان نه شي جوړیدلی:موسَی وویل:«کله چې زه بني اسرایيلو ته ورشم او ورته ووایم چې زه ستاسو د پلار او نیکه خدای رالیږلی یم. هغوی به له ما تپوس وکړي چې د هغه (خدای) نوم څه دی؟ نو زه دوی ته څه ځواب ورکړم؟. خدای وویل: **(زه یم چې هم زه یم)** دوی ته ووایه: زه تاسو ته **(زه یم)** رالیږلی، هغوی ته ووایه: ستاسو د پلار نیکه، ابراهیم، اسحاق او د یعقوب خدای، **(یهوه)** رالیږلی یم. دا (نوم) د تل لپاره زما نوم دی او ټول نسلونه به ما په دې نوم وپېژني.» (هماغه کتاب:۳/۱۳- ۱۵)

یهوه چې له بتانو او بتپرستانو ډېره کرکه او دښمني درلوده، بتپرستي کبیره ګناه ګڼل کیده، د اسرایيلو قوم یې په داسې حالت کې غوره کړ چې د مصریانو په څېر یې د بتانو عبادت کاوه، له هغې وروسته چې اسرایيل له مصره وایستل شول او د موسی لخوا یې څو ډوله معجزې په‌خپلو سترګو ولیدلې خو بیا هم د اسرایيلو ډېرو کسانو د بتانو له لمانځلو لاس وانه‌خیست چې د طلایي خوسکي بت یې تر ټولو روښانه بېلګه ده[2] ډېرو اسرایيلو په فلسطین او د تعبید پر مهال د بتانو لمانځنې کولې خو یهوه بیا هم له خپل غوره کړای شوي قوم څخه تېر نه شو. سربېره پر دې د اسرایيلو قومي خدای یهوه وایي چې زما قوم د نړۍ له قومونو سره توپیر لري، له ټولو لوړ او خپل قوم یې بللی. د اسرایيلو قوم سپېڅلی، ځانګړی او خپل میراث یې ګڼلی دی، تر دې چې که د اسرایيلو قوم ته څوک زیان ورسوي، داسې وبوله لکه یهوه خدای ته یې چې زیان رسولي وي:**«... څوک چې تاسو ځوروي، هغه یهوه خدای ځوروي ځکه چې تاسو د یهوه خدای د سترګو تور یاست.»** (د زکریا کتاب:۲/۸)

د تورات د تثنیه په کتاب کې څو ځله د موسی له قوله ویل شوي چې اسرایيل د یهوه خدای لپاره یو ځانګړی شوی، سپېڅلی قوم او د هغه میراث دی:**«دا چې تاسو سپېڅلی قوم یاست، د یهوه خدای لپاره ځانګړی شوی یاست، هغه د ځمکې له ټولو قومونو څخه تاسو انتخاب کړې، ترڅو د هغه غوره قوم واوسئ.»** (د تثنیه کتاب:۷/۶)

وړاندې له هغې چې موسی اسرایيلو ته دوولس ډوله د (لعنتونو) په نوم احکام ورکړي، د اسرایيلو قوم ته خبر ورکوي چې وروسته له دې تاسې د خدای قوم یې:«اې اسرایيلو واورئ! **نن ورځ تاسې د یهوه خدای قوم شوئ،** په دې بنسټ تاسو باید د خپل خدای یهوه قوانین پلي کړئ چې د هغه قوانین نن ورځ تاسو ته درکوم.» (هماغه کتاب:۲۷/۹-۱۰)

«یهوه خدای تاسو د اور له بټۍ مصر څخه بهر کړئ، ترڅو د ده **ځانګړی قوم او د هغه میراث پاتې شئ، لکه څرنګه چې نن یاست.»** (هماغه:۴/۲۰)

«ځمکه او آسمان ستاسو د خدای یهوه دي، سره له دې هغه ستاسو له پلرونو سره دومره علاقه درلوده او پرې ګران وو چې تاسې د هغوی زامن یاست، **نو تاسې یې غوره کړئ تر څو له ټولو ملتونو لوړ وئ، لکه نن چې څرګنده ده.»** (هماغه:۱۰/۱۴-۱۵)

«لکه څرنګه چې د اورشلیم ښار چاپېره غرونه تاؤ دي، همداسې **یهوه خدای د خپل قوم چارچاپېره دی** او تر ابده به له هغوی ساتنه کوي.» (د مزامیرو کتاب:۱۲۵/۲)

«د یعقوب خدای د دغو بتانو په څېر نه دی، هغه د ټولو موجوداتو خالق[؟] او **اسرایيل د ده ځانګړی قوم دی.»** (د ارمیا کتاب:۵۱/۱۹)

د اسرایيلو ځانګړي خدای یهوه د خپل ځانګړي قوم لپاره له هر ډول بې‌عدالتیو، ظلم او تیریو کار اخیستی دی، د خپل غوره کړي قوم لپاره یې د نورو قومونو، ځمکې او شتمنۍ، په دې پلمه چې بتپرست دي، غصب کړي او د هغوی ټول‌وژنې یې د ثواب کار بللی دی، هغه مهال چې اسرایيل د سینا په دښته کې لال‌هانده ګرځیدل نو موسی اسرایيلو ته وویل:

«کله چې ستاسو خدای یهوه تاسو هغې ځمکې ته ورولي چې د نیولو په درشل کې یې، دغه اووه قومونه چې ټول له تاسو څخه لوی او ځواکمن دي له منځه به یې یوسئ، هغه مهال چې ستاسو خدای یهوه: حیتیان، جرجاشیان، آموریان، کنعانیان، فرزیان او یبوسیان، تاسو ته تسلیم کړي او تاسو هغوی مغلوب کړي، **باید ټول ووژنئ، له هغوی سره تړون مه کوئ، پر هغوی رحم مه کوئ، بلکې هغوی په بشپړه توګه له منځه یوسئ،** له هغو سره ودونه مه کوئ، مه پرېږدئ

[2]:د تورات د هجرت کتاب: ۳۲/۱-۱۳؛ تثنیه:۹/ ۶-۲۹.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستاسو زامن د هغوی له لونو سره واده وکړي چې له امله به يې هغوی بتپرستی ته راکش کړي، همدا به د دې سبب شي چې يهوه خدای درته په قهر شي او تاسو به په بشپړه توګه له منځه يوسي.
د کافرانو قربانځايونه وران کړئ، هغه ستنې چې دوی يې لمانځي ماتې کړئ او شرموونکي مجسمې ټوټې، ټوټې کړئ، بتان يې وسوزوئ.
تاسې سپيڅلی قوم او د يهوه خدای لپاره ځانګړی شوی ياست او د ځمکې پر مخ د ټولو خلکو له منځه انتخاب شوي ياست تر څو د هغه غوره قوم پاتې شئ.» (تثنيه:۱/۷تر۶پورې)
د سليمان پاچا په يوه اوږده دعا کې اسرايیل څو واره د يهوه خدای د قوم په توګه ياد شوي دي او د دعا په پای کې سليمان پاچا يهوه خدای ته هغه ژمنه ورياد وي چې هغه له موسی سره کړي وه:«اې يهوه خدايه پر خپل بنده او **خپل قوم باندې** د مهربانۍ نظر وکړه او دعاګانې او ناري يې واوره، هغه مهال چې زموږ نيکونه دې د مصر له ځمکې بهر کړل، خپل بنده موسی ته دې وويل: **ما د اسرايیلو قوم د نړۍ د ټولو قومونو له منځه انتخاب کړي دي چې زما ځانګړی قوم پاتې شي.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۸/۵۲-۵۳)
«يهوه خدای به د خپل ستر نوم د درناوي لپاره **خپل قوم** هېڅکله پرېنږدي، د هغه غوښتنه دا ده چې تاسو خپل **ځانګړی قوم جوړ کړي.»** (د سمويل کتاب:۱۲/۲۲)
د اسرايیلو او د دوی د خدای يهوه ترمنځ ډېر بېپايلې او بېپنسټه تړونونه او ژمنې شوي دي چې له هغو څخه لاندې تړون چې اسرايیل به د يهوه خدای قوم وي او يهوه به د دوی خدای وي، د موسی لخوا اسرايیلو ته اعلانيږي:«نن ورځ يهوه خدای غواړي **تاسو د خپل قوم په توګه ومني او هغه ستاسو خدای شي** لکه څرنګه چې ستاسو پلرونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب سره يې ژمنه کړي وه، دا تړون يوازې ستاسو سره چې نن د هغه پر وړاندې ولاړ ياست نه تړل کيږي، بلکې د اسرايیلو له ټولو راتلونکو نسلونو سره هم تړل کيږي.» (تثنيه:۲۹/۱۳تر۱۵پورې)

اسرايیل د يهوه خدای زامن

سربېره پر دې يهوه ځان د عبرانيانو او اسرايیلو خدای بولي، تر دې چې اسرايیل يې خپل زامن او ځان يې د دوی پلار بللی دی.
هغه مهال چې موسی د مصر پر لور وخوځيد ترڅو له فرعون سره د اسرايیلو قوم د خوشي کيدو په اړه خبرې وکړي، نو يهوه موسی ته وويل چې د مصر واکمن ته ووايه چې اسرايیل زما مشر زوی دی:«هغه ته ووايه، يهوه خدای وايي:**«اسرايیل زما مشر زوی دی،** نو امر درته کوم: پرېږده چې هغوی له مصر څخه بهر شي او زما عبادت وکړي خو که سرکښي دې وکړه ستا مشر زوی به ووژنم.» (هجرت:۴/۲۲-۲۳)
د اسرايیلو خدای يهوه اسرايیل په بېلابېلو مرحلو او حالاتو کې څو ځله خپل زامن او ځان يې د دوی پلار بللی دی:**«زه به د هغوی پلار او دوی به زما زامن شي... .»** (د سمويل دوېم کتاب:۷/۱۴)
يهوه خدای وايي:«ما خپل پاچا[داؤد] د اورشليم په سپيڅلي ښار کې د سلطنت پر تخت کېنولی دی. پاچا وايي: زه به د يهوه خدای فرمان اعلان کړم، هغه ما ته ويلي دی: **سر له نن ته زما زوی او زه ستا پلار يم،** له ما غوښتنه وکړه، زه به ټول قومونه د ميراث په توګه تاته وبښم او ټوله نړۍ به ستا ملک کړم. ته به په خپله اوسپنيزه امسا باندې پر دوی حکومت وکړې او هغه به لکه خاورين لوښي مات کړي.» (مزامير:۲/۶تر۹پورې)
د اسرايیلو خدای يهوه له خپل غوره کړي قوم څخه په خواشينۍ سره سرټکوي، وايي چې اسرايیل مې د ماشوم په څېر وروزلو او لوی مې کړ خو په پای کې زما پر خلاف، بتپرست شو، يهوه دا هم وايي چې وروسته له دې اسرايیل زما زامن نه دي ځکه چې زما درناوی يې ونه کړ، يهوه لا نور وړاندې ځي زياتوي چې اسرايیل له ما څخه نه دي دوی د زناکارانو زامن دي، مور يې زنا کړي ده:«کله چې اسرايیل ماشوم ؤ **هغه د خپل زوی په څېر راته ګران ؤ،** هغه مې له مصر څخه راوغوښت. خو هر څو مې چې د ځان پر لور رانږدې کاوه، لا نور لرې شو، د بعل لپاره يې قرباني وکړې او د خپلو بتانو لپاره يې خوشبويۍ لوګی کړې، له کوچنيوالي مې هغه تربيه کړ، هغه مې په خپله غېږه کې ونيو، په لاره تلل مې ورزده کړل خو هغه پوه نه شو چې دا زه وم چې هغه مې وروزلو، اسرايیل مې د خپلې مينې په رسۍ د ځان پر راکش کړل، د هغه له شا څخه مې پېټی پورته کړ، ورته ټيټ شوم او خوراک مې ورکړ.» (د هوشع کتاب:۱۱/۱تر۴پورې)
«د هغوی له زامنو به د خپلو زامنو په څېر څارنه ونه کړم، ځکه چې هغوی له ما څخه نه دي، بلکې د نورو سړيو زامن دي، **مور يې زنا کړي ده.. .»** (هوشع:۲/۱۴-۱۵)
«سره له دې چې [اسرايیل] ما ته وايي: **اې پلاره! له وړکتوبه موږ درباندې ګران وو،** نو تر ابده پر موږ باندې مه په قهر کېږه. دا وايي او هر بد کار چې له لاسه يې وشي کوي يې.» (ارميا:۳/۴-۵)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«غوښتل مې دلته له خپلو زامنو سره استوګن شم، غوښتل مې دغه حاصلخېزه ځمکه چې په نړۍ کې ساری نه لري، تاسو ته درکړم، **په دې تمه وم چې ما ته د پلار غېږ وکړئ،** هېڅ فکر مې نه کاوه چې بیا به له ما وګرځئ.» (هماغه کتاب:۱۹/۳)

«ای اسراییله! ته په هغو ورځو کې **زما سپېڅلی قوم او مشر زوی وې،** که چا به ته ځورولې هغه به مې محکوماوه او په سخته بلا به مې اخته کړ.» (هماغ:۳/۲)

قادر او متعال خدای یهوه کاهنانو ته وایي:«زوی دې خپل پلار او مریي دې خپل ځښتن ته درناوی وکړي. **نو که زه ستاسو پلار وم، زما درناوی چېرې دی؟** که زه ستاسو ځښتن یم زما درنښت چېرې دی؟» (د ملاکي کتاب:۶/۱)

د اسراییلو خدای یهوه د یو متزلزل انسان په څېر په یو دریځ نه پاتې کیږي، ومولوستل چې وړاندې له دې هغه اسراییل خپل زامن بلل خو وروسته بیا ترې منکریږي، اسراییلو ته سزا ورکوي او بابل ته یې شړي، اسراییل چې د اسارت په حالت کې دي نو یهوه یو ځل بیا اسراییل خپل قوم او خپل زامن بولي، خپلې تېرې کړنې هېروي، وایي چې له اسراییلو سره به مرسته وکړي، یهوه ځان د اسرایلو پلار بولي او هغوی په زړه پورې زامن، پر هغو رحم کوي، ارمیا نبي لاندې یادوني د اسراییلو د تعبید پر مهال کړي دي. هغه د یهوه خدای له قوله وایي:

«اې اسراییلو زما قومه! ته لا هم زما زوی او په زړه پورې زوی مې یې، اړینه وه چې تا سزا درکړم خو پوه شه چې په تا به رحم وکړم.» (ارمیا:۲۰/۳۱)

«هغوی به په ژړا راشي دعا به وکړي، زه به دوی تر خپلې څارنې لاندې له لویو ویالو پورې باسم او هواري لارې به ورته په ګوته کړم تر څو ونه ښوییږي ځکه چې **زه د اسراییل پلار یم او هغه زما مشر زوی دی.»** (هماغه کتاب:۹/۳۱)

د هوشع نبي په کتاب کې په یوه وړاندوینه کې اسراییل د یهوه خدای د زامنو په توګه یاد شوي دي هغه وایي:«سربېره پر دې، داسې وخت به راشي چې اسراییل د سیند د شکول په څېر ډېر شي، هغه مهال د دې پر ځای چې یهوه خدای دوی ته ووایي چې تاسو زما قوم نه یاست، وبه وایي: **تاسو د ژوندي خدای زامن یئ.»** (هوشع:۱۰/۱-۱۱)

هغه مهال چې د اسراییلو پاچا داؤد غوښتل د یهوه لپاره کور جوړ کړي نو یهوه ورته وویل چې تا ډېرې جګړې او وژنې کړي دي، نو ته نه شې کولی زما لپاره کور جوړ کړې خو ستا زوی سلیمان به زما لپاره کور جوړوي، هغه به زما زوی او زه به یې پلار وم. دغه کېسه داؤد پاچا په‌خپله کړي ده هغه وایي:«یهوه خدای راته ویلي دي:زما کور به ستا زوی سلیمان ودانوي ځکه چې هغه [یهوه] دا انتخاب کړی دی چې **هغه مې زوی او زه یې پلار وم،** که وروسته له دې زما قوانین او احکام ومني، لکه تر اوسه یې چې منلي دي، د هغه سلطنت به تر ابده پورې ټینګ وساتم.» (د تاریخونو لومړی کتاب:۶/۲۸-۷)

«... زه به د هغه پلار او هغه به زما زوی وي او زما مینه به له هغې لرې نه شي، لکه څرنګه چې له شایول څخه لرې شوه، هغه به تر ابده پر خپل قوم او د اسراییلو پر هېواد وګمارم او زامن به یې تل پاچاهان وي.» (هماغه کتاب: ۱۷/ ۱۲تر۱۴پورې)

«د هغه د حاکمیت سیمه به د لوی سیند [بحر] څخه د فرات تر سیند پورې پراخه کړم. **هغه به ما خپل پلار او خدای او ژغورونکي ډېره (د محلقوت ډېرینه کلا) وبولي. زه به هم له هغه سره د مشر زېږیدلي [زوی] په څېر چلند وکړم** او هغه ته د ټولې نړۍ پر پاچاهانو لوړاوی ورکړم.» (مزامیر:۲۶/۸۹-۲۷)

دا وو د اسراییلو قوم هغه خرافات چې د دوی په دیني کتابونو کې راغلي دي او دوی ورته ګروهمن دي چې ګواکې په رښتیا سره د خدای غوره، ځانګړی او سپېڅلې قوم دی، په داسې حال کې چې مسئله برعکس ده.

نېټه:۱۴۰۲/۲۰/۲۵ل. ل
نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ